# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



ليکوال: شريف بهاند
دسمبر ۲۰۱۰


## ناتو د دښمن په لټه

۱

**سريزه:**

له څو پيړيو راپدېخوا په نړيوال ډګر کې د لوبې قواعد د لويديځ له خوا ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه د امريکايي ليکوال، ساموېل هانتيګټون په اند: په ۱۹۱۹ کال کې يوازې درې کسانو، ودرو ويلسون Woodrow Wilson، لويد جورج Lloyd Georg او ژرژکلمانسو Clemenceao Georges د نړۍ کنترول په خپل واک کې درلود. دوي به تصميم نيوه، چې يو هيواد چيرته رامنځته، د هغه پولې څنګه وټاکل او د چا له خوا اداره شي او همدارنګه کوم هيواد له منځه يوړو شي. يا په بله وينا د لومړۍ جګړې کتونکو، نړۍ د خپلې خوښې او ګټو پر بنسټ سره وويشله. خو د دوهمې نړيوالې جګړې له پايته رسيدو وروسته د نړيوالې لوبې قواعد د سړې جګړې د اصولو پر بنسټ ټاکل کيدل. خو د سوسياليستي نظام په ماتې سره، د سړې جګړې د وخت ويش خپل باور له لاسه ورکړ. د عراق له لومړۍ جګړې لږ مخکې، جورج بوش (پلار) د۱۹۹۱ کال د جنورۍ په نهه ويشتمه کانګرس ته په خپله وينا کې، وويل: " نړۍ کولی شي اوس د خليج د جګړې په لاملونو پوه شي، دغه جګړه د هغه نوي نړيوال نظام د رامنځته کولو لپاره تر سره کېږي، چې پخوا د هغه ژمنه شوې وه،..." موخه د يو وزرى نظام ټينګښت او د هغه د لاربنود يانې د متحدو ايالتونو د ترلاسه شوی اقتصادي ـ سياسي برترۍ ساتل او د No Rivals سيال له رامنځته کيدو څخه مخنيوي و. خو په نړيواله کچه په دا دوه وروستيو لسيزو کې داسې پيښې، يا په لوی لاس او يا هم د ناسم سياست د پلي کولو په ترڅ کې رامنځته شوې، چې د هغو له امله نور نو د يووزرى ځواک د امپراتورۍ خول (تاج) د هغه په ښې سترګه راکوږ بريښي. يا په بله وينا د لويديزې نړۍ ځواکمنه کړۍ، متحدو ايالتونو، بريتانيا، المان، فرانسه، ايتاليا او کانادا، د نړيوال نظام د لوبو د قواعدو ټاکونکې نه، بلکې په دې برخه کې د ځواکمنو اقتصادي ـ سياسي سيالانو له چلنجونو سره مخامخ ده. همدې ګواښونو ته په پاملرنې او د هغو په وړاندې د مبارزې لپاره لويديځ يو ځل بيا دې ته اړ شو، ان د خپل پوځي سازمان، ناتو په ستراتيژۍ کې بدلون راولي.

ايا په رېښتيا هم لويديزه نړۍ له رېښتني ګواښونه سره مخامخ ده؟ او که په دې پلمه د خپل له لاسه تلونکي دريځ د مخنيوي په خاطر د تل په خير، له زور څخه د کار اخيستنې په موخه د دښمنانو په لټه کې ده؟ دا ګواښونه کوم دي؟ او د کوم هيواد يا د کومې ډلې هيوادونو له خوا

رامنځته شوي [کیدونکې] دي؟ د دغوسیالیو اغیز به پر نړیوال نظام څه ډول وي؟ او په تیره بیا هغه به د افغانستان پر وضعې، چې اوسمهال هم د دا ډول سیالیو ډگر دی، څه ډول اغیز وکړي؟
نو ځکه لیکوال هڅه کوی، د لاندنیو موضوعاتو لکه:

– "لویدیزه نړی – چین: همکار او که سیال"؛
– د "درېیمي زریزې د دوهمې لسیزې لپاره د ناتو نوی ستراتیژی"؛
– "تیر دښمن – راتلونکی ستراتیژیک همکار؟" او
– "د وتلو ستراتیژی او که د جگړې افغانیزې کول"، په ارزوني او شنني سره پورتنیو پوښتنو ته ځواب وومومي.

## لویدیزه نړی – چین: همکار او که سیال؟

په ټولیزه توگه د لویدیزې نړی په سیاسي قاموس کې، یوویشتمه زریزه د امریکایی پیر په نامه یاد شوی او امریکایي سیاستوالو په تیره د هغو نوو محافظه کارانو هم، د پوځي برلاسی له لارې د دغي تر لاسه شوې اقتصادي برترۍ ساتنه او د هغې لا پراختیا خپله بنسټیزه دنده گڼله. په ریښتیا هم واشنگټن د شمالی اتلانتیک د پوځي سازمان، ناتو په اډانه کې د زیات لگښت او زیار له لارې د دا ډول پوځي برترۍ په ترلاسه کولو بریالی او د ژبیگینو برژینسکی په اند د نړی "یو وزری ځواک" شو. د سوسیالیستي نظام له ماتې وروسته د ناتو غړو هیوادونو، په تیره متحدو ایالتونو او د اروپا د وچې ځینو اقتصادي ځواکمنو هغو، له دغې پوځي برترۍ څخه په گټې اخیستنې سره، د نوی لیبرالیزم تر لوا لاندې د پانگوال نظام د پراختیا (نړیوالیدل) لپاره هاند و هڅه پیل کړه. دغه هڅي هغه وخت لا نورې هم پیاوړې شوې، چې د وارسا پوځي تړون د ۱۹۹۱ کال د جولای په اومه نیټه منحل شو. د ناتو سازمان هڅه وکړه، څان د نړی له نوو رامنځته شوو شرایطو سره عیار کړي. په دې موخه سازمان په خپله غونډه کې، چې په ۱۹۹۱ کال د روم په ښار کې تر سره شوه، د بیلابیلو خواوو څخه د نوو امنیتي گواښونو په وړاندې د مبارزې په خاطر په خپله "نوې ستراتیژۍ" کې د "چټگ یرغلیز ځواک" رامنځته کول تصویب کړل.

خو د ناتو په دکترین Doktrin کې ستر بدلون په کال ۱۹۹۹ د واشنگټن په غونډه کې رامنځته شو. د سازمان په نوی دکترین کې دری ۳ داسې بنسټیزې مسألې، چې د ناتو په تیر هغه کې نه وې، د غړو هیوادونو له خوا تصویب شوې. او هغه:

– د ناتو د ماموریت د څرنگوالی مسأله؛
– د هغه د ماموریت سیمي او همدارنگه
– د ماموریت د باورلیک مسأله [۱]، وه.

د دغه دکترین په تصویب سره د ناتو سازمان د نړیوال ژاندارم دنده په خپله غاړه واخیسته او سازمان ځانته دا حق ور په برخه کړ، هر وخت او د نړی په هره برخه کې، چې د سازمان د غړو هیوادونو ټولیزې گټې، امنتیي هغه او په اصطلاح لویدیځ گډ ارزښتونه تر گواښ لاندې وي، ان د ملگرو ملتونو د امنیت د شورا له باور لیک څخه پرته، یرغل وکړي. ښه بیلگه یې د نورو تر څنگ د ناتو پوځي یرغل پر یوگوسلاویا دی.

ناتو په تیره متحدو ایالتونو د خپل پوځي ځواک د لا پیاوړتیا په موخه د بخارست په غونډه کې (۲۰۰۸ کال) د ناتو د توغندیو د دفاعي سستیم او همدارنگه په دغه سازمان کې د ختیزې اروپا د هیوادونو د منلو په اړه پریکړه وکړه، چې نوماند هیوادونه د شتراسبورگ / بادن بادن Strasbourg / Baden-Baden (۲۰۰۹ کال) په غونډه کې د ناتو په غړیتوب ومنل شول. سربیره پر دی په همدې غونډه کې له ځانه د دفاع په خاطر د وار مخکې کول او تر نورو دمخه د اتومي وسلو د کارولو په اړه هم پریکړې وشوې [۲].

د لویدیځ په ځانګړې توګه د متحدو ایالتونو، بنسټیزه موخه د پوځي ځواک له دغې ننداری او همدارنګه سازمان ورکړې شوی زور څخه ګټه اخیستنه، د سیال ځواک له رامنځته کیدو څخه مخنیوي، په اصطلاح د دوي د اندیښنو، ارزښتونو او دین ... او یا په لنډه توګه د لویدیځ د کلتور برلاسی، د طبیعي توکو پر پاتي زیرمو کنټرول او له دې لارې پر پاتې نړۍ د لویدیزې هغې د ترلاسه شوې اقتصادي ـ سیاسي د برلاسی لاټینګښت او د لویدیزو هیوادونو د ګټو پر بنسټ د نړیوال نظام رامنځته کول و. خو په نړیواله کچه له سړې جګړې څخه د وروسته پړاو د پیښو پرمختیاوو دا روښانه کړې، چې نوی نړیوال نظام د رامنځته کیدو په حال کې دی، خو نه هغه نظام چې د متحدو ایالتونو ولسمشر، جورج بوش یې غوښتونکی و. ځکه داسي نښې نښاني تر سترګو کیږي، چې د لویدیځ نړیوال دریځ، ځواک او سیاسي اعتبار د پوځي برترۍ سره سره د نورو ځواکونو په پرتله د زوال په حال کې دی. د همدې لامل او د نړۍ د اوسمهالیزو پرمختیاوو په پام کې نیولو سره،"د نوې بڼې سترځواک" رامنځته کیدونکی دی، چې د هغه بنسټ د تیرو هغو په څیر پوځي ځواک نه، بلکې پانګه او کلتور دی. د ایتالوی څانګیز پوه، جیواني اریچي Giovanni Harighi په اند: " که چین په یوه ځواک بدل شي، ښایي هغه له تیرو هغو څخه بیخي په بلې بڼې سره رامنځته شي. ... یوازې غوارم دومره یادونه وکړم، چې په هغه کې به پوځی ځواک ډیر لږ رول ولوبوي، تر اقتصادي او کلتوري هغه. په تیره اقتصادي رول تاکونکی بلل کیږي" [۳].

د اقتصادي شاخصونو پر بنسټ کولي شو ووایو، چې د چین ولسی جمهوریت همدا اوس هم په اقتصادي ځواک بدل شوی دی. د یوې لیسزې په ترڅ کې چین د نړۍ د اقتصادي ځواکونو په لړۍ کې دوهم ځای خپل کړ. د نړیوال بانک د رپوټ له مخي چین په ۲۰۰۰ کال کې تر ایتالیا وروسته اووم مقام درلود، په ۲۰۰۵ کال کې تر فرانسي او بریتانیا او په ۲۰۰۷ کې تر المان مخکې شو او د ۲۰۱۰ کال په نیمایي کې د جاپان ځای خپل، یانی دوهم مقام ترلاسه کړ[۴]. د دغه هیواد اقتصادي وده په ۲۰۰۹ کال کې ۱ .۸ ٪ ، په ۲۰۱۰ کال کې ۲ . ۱۰ ٪ وه او ښایي هغه په ۲۰۱۱ کال کې ۶ .۹ ٪ وي. په داسي حال کې چې په همدې کلونو کې د اروپا د زون اقتصادي وده په ترتیب سره ۷ .۴ـ ٪ ، ۷ .۱ ٪ او ۵ .۱ ٪ او د متحدو ایالتونو اقتصادي هغه په همدې کلونو کې په ترتیب سره ۶ .۲ ـ ٪ ، ۶ .۲ ٪ ، او ۳ .۲ ٪ ، د جاپان اقتصادي وده په ورته کلونو کې ۲ .۵ ـ ٪ ، ۸ .۲ ٪ ، ۵ .۱ ٪ وي[۵].

د چین ولسی جمهوریت د نړیوال مالي کړکیچ په بهیر کې هم داسي مالي او بانکي سیاست ترلاسه لاندې ونیو، چې د هغه په پلي کولو سره یې خپلې دا څانګې له زیان، په ځانګړې توګه له محتکرینو وساتلي شوې او د یو نوي پولي ځواک په توګه رامنځته شو. دغه هیواد د ۶۴۸ .۲ میلیاردو ډالرو ارزي زیرمو (۲۰۱۰ کال دریمه ربع) په لرلو سره په نړۍ کې لومړی مقام خپل کړی دی، له هغه وروسته جاپان د ۰۱۹ .۱ میلیاردو ډالره (جون ۲۰۰۹ )، اروپایي زون ۷۱۶ میلیارده ډالره (اکتوبر ۲۰۰۹ )، د روسیي فدراسیون ۴۵۶ میلیارده ډالره (اپریل ۲۰۱۰)، هند د ۲۷۷ میلیاردو ډالرو (مارچ ۲۰۱۰ ) په ارزښت ارزي زیرمي لرلي [۶]. که په نړیواله کچه بانکي سکتور هم په پام کې ونیسو، د نړۍ د لسو سترو بانکونو له ډلې څخه درې ستر هغه، چې ټولیزه پانګه یې ۹ .۵۹۳ میلیاردو ډالرو ته رسیږي، د چین د هیواد دي. درې ستر بانکونه په متحدو ایالتونو پورې اړه لري، خو د هغوي ټولیزه پانګه د چین تر بانکونو لږ یانې ۶ .۴۲۶ میلیارده ډالره ده. پاتي څلور ستر بانکونه، یو د بریتانیا ۴. ۱۹۰ میلیارد ډالره پانګه، یو د اسپانیې ۰ . ۱۳۲ میلیارد ډالره پانګه، یو هم د فرانسي ۰ . ۹۲ میلیارد ډالره پانګه او بل د برازیل ۷ . ۸۷ میلیارد ډالره پانګه لري، دي[۷].

که د لویدیزې نړۍ او د بریک BRIC ـ برازیل، روسیي، هند او چین ـ د ډلې د اقتصاد نورې مهمې څانګې د ساری په توګه بهرنی سوداګري، صنعت، پانګه اچونه ... او داسي نورې، هم سره

پرتله کړو، پایلې یې پورتنې ارزونې ته ورته برېښي. د دغې شننې پر بنسټ ویلې شو، چې د دغې نابرابرۍ اقتصادي ودې له امله، متحده ایالتونه، په ټولیزه توګه لویدیزه نړۍ، په پر له پسې توګه د احتمالي سیالانو په تیره د چین له خوا تر ګواښ لاندې ده. د لویدیځ د سیاسي او اقتصادي چاروا‌کو په اند، چین خپله پانګه او ارزې زیرمې د دوې په وړاندې د وسلې په توګه کاروي. لویدیځوال د خپلو تجربو له مخې په دې ښه پوهیږي، چې بانکونه په تیره مرکزي هغه ځومره ځواکمن دی او دې پیسو د سمبالښت، چا ته د څه لپاره، او د سود د ونډې (اندازې) د ټاکنې له لارې څنګه پر ټول اقتصاد اغیز او په هغه کې لاسوهنه کوي. بانکونه په څه ډول سره انفلاسیون، دیفلاسیون او په ټولیزه توګه اقتصادي غوړېدا (رونق) او یا لوېدنه (انحطاط) رامنځته، څنګه او د کومو موخو لپاره د ونډو (اسهامو) بیه لوړه او ټیټه کوي. د متحدو ایالتونو سیاستوال جفرسون Jefferson خپل همکار، جان آدامز John Adams ته د بانکونو په باب ځومره ښه لیکلي: "... په رښتني توګه زه هم ستا په څېر باور لرم، چې خدمت ته چمتو پوځ دومره ګواښمن نه دی، لکه بانکي تاسیسات څه دي" (٨).

که څه هم په رسمي توګه لویدیزه نړۍ او چین یو او بل ته د ستراتیژیک همکار په سترګه ګوري، خو پورتني ګواښ ته په پاملرنې سره، د دوي تر منځ پټه سیالی په ډیر شدت سره روانه او یو پر بل بې اعتماده دي. اصلاً لویدیزه نړۍ په تیره متحده ایالتونه هک حیران دي، چې له چین سره څه ډول چلند وکړي. لکه څنګه چې په پورتنیو ګرښو کې یادونه وشوه، چین له اقتصادي پلوه په ځانګړې توګه په بانکي او مالي برخه کې، د واشنګټن لپاره ستر ګواښ بلل کیږي. د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو د وزیرې د یوې تبصرې له مخې، موږ تر اوسه په دې نه یو بریالي شوي، چې څنګه د چین د بانک لاربښود تر خپل اغیز لاندې راولو (٩). سربیره پر دې د چین ولسی جمهوریت د ځینو اروپايي دولتونو او د متحدو ایالتونو د دولتي پور پاڼو یو تر ټولو ستر اخیستونکی دی. د پور پاڼو دغې اخیستنې چینیانو ته یو ستر غرور ور په برخه کړی، چې ان اوس یې یوه ارزي او سوداګریزه نړیواله جګړه پیل کړې ده. لویدیځ تر خپل اغیز لاندې نړیوال مهم سیاسي او امنیتي سازمان د بیلګې په توګه، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا، له لارې هم پر چین نه اقتصادي بندیزونه لګولی او نه هم د کوم پوځي ګواښ او یا یرغل پریکړه کولی شي. ځکه دغه هیواد په خپله په هغې کې د ویټو حق لري او هم د ځواکمن ځمکني، هوايي او سمندري پوځ، چې له اتومي غاښونو سربیره، د ستورو د جګړې توان هم لري، خاوند دی. د همدې لاملونه پر بنسټ،" د پنټاګون ستراتیژیستان چین د متحدو ایالتونو د راتلونکې لپاره یو ستر ګواښ بولي" (١٠).
د چین دغه سیاسي ـ اقتصادي او پوځي ګواښ او همدارنګه په نړۍ کې د نورو نوو رامنځته شوو ګواښونو په وړاندې د مبارزې لپاره، د ناټو د سازمان غړو هیوادونو اړینه وبلله، د ناټو په ستراتیژۍ کې داسې بدلون راولي، چې سازمان د هغې په مرسته د لویدیزې نړۍ له ترلاسه شوې برترۍ څخه دفاع او که شوني وي د سازمان د غړو هیوادونو دریځ لا نور هم پیاوړی او هغه ته پراختیا ورکړي. نو اړینه برېښي، چې د لیکنې په دوهمه برخه کې د ناټو نوې ستراتیژۍ او دا چې د هغې د پلي کولو اغیز پر نړیوال نظام او امنیت څه ډول دی، راوسپړو.